وهمچنان شهادت اسلامي بخواهيم
نابرودم گیرد کمپشیه وپیاه بیرون انقلاب علیه ظلم شاه گیرد شد
(۸) صفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

راه لته بند بروي ترافيك بازاست

کابل – ۱۶ قوس :
جادهٔ لته بند که شهرك سروبي رابه ولسوالي بگرامي کابل وصل مینماید بر روي ترافيك بازاست.
یکمقام مسؤل فرقه پنج جهادي مستقردرولسوالي بگرامي خبرداد: دوفروند هلیکوپتر دولتي که درخدمت افراد شوراي نظاروموتلفین اند. روز دوشنبه درمرکز قوماندان نذیربه زمین نشستند اماتاکنون بصورت دقیق معلوم نیست که طیارات مذکور حامل مواداکمالاتي نظامي بوده ویاافراد کمکي به این پایگاه انتقال داده اند. قابل تذکراست: شب گذشته برخي رادیوهاي جهان گزارش دادند که طیارات دولتي بمنظورمسدودنمودن مسیررفت وآمد وسایل نقلیه حزب اسلامي افرادي رادرلته بند پائین نموده وراه رابر روي ترافيك مسدود نموده اند.
منبع با اعلان بي اساس بودن این خبرافزود که: راه لته بند کاملاً بر روي ترافيك بازاست.

پاکستان به خاطر تأمين صلح درافغانستان اظهار آماده گي کرده است.

اسلام آباد ۱٦ قوس .
پاکستان آماده است تاجهت تأمين صلح درافغانستان مساعي به خرج داده درارابطه به قطع جنگ هاي جاري درآنکشوربازعماي جهادي افغانستان روابطي برقرارنماید.
طبق اخبار منتشرهٔ روزنامهٔ هاي پاکستان،استاد رباني رئيس دولت اسلامي افغانستان طي سفراخیرش به پاکستان ازمقامات آنکشور خواسته است تادر رابطه به حل مشاکل افغانستان تلاش ومداخله نمایند.
گفته شده است که پاکستان بارهبران مختلف مجاهدین افغان به خاطر برقراري صلح روابطي رابرقرارنموده است.

شمارهٔ مسلسل (۷۲۱) سال شانزدهم شمارهٔ (۱۰۹) پنجشنبه (۱۸) قوس ۱۳۷۲ هـ .ش (۲۵) جمادي الثاني ۱٤۱٤ هـ ق (۹) دسمبر۱۹۹۳ م قیمت (۱۰۰) افغاني (۲روپیه)

دتگاب ولسوالي مومنوخلکودائتلافي ځواکونود وحشيانه بمباريو څخه ځپله کرکه څرگنده کړه

تگاب – دلیندي ۱۵ :
دکاپیساولایت دتگاب ولسوالي څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي دروان کال دلیندي دمیاشتي په ۱۵ مه نیته دنوموړي ولسوالي مومنوخلکود حمزخیلوپه جامع جومات کي یوه درنده غونډه جوړه کړه .
پدي غونډه کي چي په سل گونوعلماوو ،سپین ږیرواوقومي مشرانوبرخه اخستي وه دائتلافي ځواکونواوکمونستوجنرالانو له لوري ئې دنوموړي ولسوالي پربې دفاع سیمویاندي دهغوي وحشيانه بمباري په کلکه وغندله اوله هغوي څخه ئې خپله کرکه څرگنده کړه .

دمخابراتو دوزيرمحترم قاضي محمد امين وقاد ترمشري لاندي يوسيمينارپرانستل شو

کابل – دلیندي ۱٤ :
له کابل ولایت څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : اسلام اودیموکراسي اودافغانستان په سیاسي نظام کي دهغي انعکاس تیره ورځ په کابل هوټل کي دیوه سیمینار په ترځ کي وځیړل شو .
نوموړي سیمینار چي دري ورځي به دوام وکړي دافغانستان داسلامي دولت دمخابراتودوزیرمحترم قاضي محمدامین وقادپه عالمانه اوارزښتناکه وینا پیل شو.
پدي سیمینارکي چي دافغانستان اسلامي دولت صلاح کاروزیرمحترم داکترعبالحي الهي اودافغانستان دعلوموااکادمي رئيس محترم عبدالاحدعشرتي هم برخه درلودهٔ دسیمینارد مربوطوموضوع گانو په باب ئې خپلي مقالي ولوستي .
همدارازپه دي سیمنار کي لوي څارنوال محترم مولوي محمدهاشم دافغانستان دجهادثقافتي شورارئيس محترم حبیب الله غالب دافغانستان
(۲)مخ

اموال ودارايي هاي مسافرين درامتداد راه پشاور – چترال ربوده شد

پشاور ۱٦ قوس .
اموال ودارايي مسافرین یازده موتردرمنطقه ولایت کنر درامتداد راه پشاوروچترال ربوده شد.
طبق گزارش روزنامه نواي وقت چاپ پاکستان تعدادي ازافراد مسلح درمنطقه بین چغه سراي وبریکوت سرك رامسدود نموده تمام پول نقد واشیاي قیمتي مسافرین راکه درآن سیاحان خارجي نیز موجود بودند چپاول نموده براي شان اخطاردادند که اگر بعدازین مسافرین خارجي ازاینطریق عبورکنند موتر هاي حامل شان نیز ضبط خواهدشد.
پس ازربودن مال ودارايي مسافرین افراد مسلح فیر هوايي نموده به سوي کوه ها حرکت نمودند.
مولوي عبدالرحیم چترالي عضو
ص(۲)

همداوس هم دتگاب په ولسوالي کي درنده جگړه روانه ده که دوي حمله وکړي څه مخکي راشي خوورسته زمونږمجاهدین تعرض کوي اوهغوي شاته تمبوي همداوس هم تاسوويني چي زمونږدرندي وسلي لکه توپونه درندي دستگاوي ډزي کوي اوددوي جیت الوتکي بمباري کوي ده وویل
(۷)مخ

په شرقي محاذ کي دحزب اسلامي قوماندان سترجنرال الحاج کشمیرخان له بي بي سي سره په مرکه کي :

جگړه دوی پیل کړی ترڅوچی دوی جگړه بنده نکړی مونږ به له خپله ځانه دفاع کوو

د لته بند لاره په بشپړه توگه دحزب اسلامی دمجاهدینو په ولکه کي ده

دکابل دامنیت وزارت په خپل یوه اعلان کي ویلي چي گویادوي دحزب اسلامي دمؤمنومجاهدینوڅخه ۱۰ کسه عرب مجاهدین ژوندي نیولي اوده ۸ کسونورمړي ئې کابل ته رسولي اوهم دتگاب ولسوالي په بشپړتوگه ددوي په لاس کي لویدلي پدي باب دبي بي سي خبریال دحزب اسلامي دشرقي محاذ دعمومي قوماندان چي اوس په تگاب ولسوالي کي دحزب اسلامي له لوري دجنگ عمومي قومانده هم په غاړه لري محترم ورور سترجنرال الحاج کشمیرخان له پوښتنه وکړه هغه په ځواب کي ورته داسي وویل

دسولي په تړلوارخونوخبري شوي

چي کله دجمهوررئيس اوصدراعظم موافقه ترلاسه شوه په عملي برخه کي به اقدام کوو

قاضي محمدامین "وقاد"

کابیني فیصله وکړه چي باید په عاجل ډول اوربند وشي

خلیل زهاد
(۷)مخ

نفرآزاد شده اند وبقیه دراسارت فرماندهان اتحاد اسلامي وجمعیت اسلامي میباشند

حجت الاسلام عبدالعلي "مزاري" رهبرحزب وحدت اسلامي :

براي حل مشكل افغانستان يك دولت مؤقت بيطرف جاگزين دولت فعلي شود

حجت الاسلام عبدالعلي مزاري رهبر حزب وحدت اسلامي افغانستان تنها راه حل مشکل سیاسي کشوررا کناره گیري برهان الدین رباني رئيس جمهور و گلب الدین حکمتیار صدراعظم کشور دانست.
به گزارش رادیوي ایران ،وي گفت براي حل مشکل افغانستان یك دولت مؤقت بیطرف باید جاگزین دولت فعلي شود و زمینه برگزاري انتخابات وتشکیل یك اردوي ملي را فراهم سازه.
طبق گزارش حجت الاسلام مزاري مجدداً به بیطرفي حزب وحدت دردرگیري هاي جاري درکشور تاکید کرده ، یادآورشد که حزب وي هرگز به حل مشکل سیاسي افغانستان ازطریق جنگ معتقد نیست.
موصوف درمورد آتش بس برقرارشده میان نیروهاي اتحاد اسلامي وحزب وحدت درغرب کابل گفت: باوجود برقراري آتش بس هنوز مشکل اساسي مردم غرب کابل نشده است.
گزارش علاوه میکند : رهبر حزب وحدت اسلامي گفت از مجموع ۷۲۰ اسیرنظامي وغیرنظامي این حزب طي دومرحله مبادله اسراء ،تنها ۲٦

دپاکستان دخلکو واکمن گوند په دوو برخو وويشل شو

اسلام آباد– دلیندي ٦ :
دپاکستان واکمن دخلکوگوند ددوي توتي کیدوله ستونزوسره مخامخ شوي ځکه چي ددي گوندبوبلي مشري میرمن نصرت بوټو دگونددااجرائیه کمیټي دتیري ورځي دهغي پریکړي دمنلونه انکارکړي دي چي ددي نه وړاندي ئې ددي گوند لور صدراعظمه بینظیربوټودگوندبوازني مشره تاکل شوي .
میرمن بوټو داپریکړه غلط بللي اووايي چي هغه خپل میره اوتیرصدراعظم ذوالفقارعلي بوټوترآخره پوري ددي گوندمشره ټاکلي وه .
نصرت بوټو له بي بي سي سره په یوه مرکه کي ویلي دي چي هغه اوس هم ددي گوندمشره ده .
داداتورلگوي چي بي نظیربوټولهٔ هغي سره تګي کړي .

آیت الله محسني درمصاحبه بارادیو (بي بي سي)

آقايان رباني ،حكمتيارومسعود اختيارات شان رابه هيئتي بسپارند وآنچه اين هئيت فيصله نمود بپذيرند

لندن ۱۷ قوس :
شیخ آصف محسني رهبو حرکت اسلامي افغانستان که اکنون مصروف بازدید ازانگلستان است ضمن مصاحبه بارادیو بي بي سي ازطرح جدیدي صحبت کردکه به گفتهٔ وي حلال هفتاد درصد ازمشکلات جاري درکشورمااست.
وي گفت،قبل از شروع جنگ تگاب جنگ هاي افغانستان را طبقه بندي کرده بودیم که باید درحل آن اقدام کنیم.
دردرجهٔ اول جنگ بین اتحاد اسلامي ووحدت اسلامي بودکه درماه گذشته ،یادر میاني کردم وبحمدالله قضیه به صلح انجامید فعلاً وضع آرام است
ص (۷)

دبابري جومات دشهادت یوکال پوره شو

هندي واکمن په وعده وفانه کوي

په هندکي دبابري جومات دشهیدولو څخه پوره یوکال تیریږي پروسږکال په هندي شپوږلځوکي په زرگونومتعصبوهندوانو پداسي حال کي چي کلنگونه ورسره اومذهبي بامیران یې په لومړي لیکه کي روان وو. بابري جومات محاصره اولیندي دمیاشتي په ۱۵ نیټه دهغه په دیوالونو وروختل اوبه خپلو ناولولاسوبې ددغه جومات گنبذه اودیوالونه پداسي شکل ونړول چي له خاوروسره سم شول.
ددغه جومات شهیدول بې شکه دټول اسلامي امت اوبه ځانگړي توگه دهندي مسلمانانو لپاره یوه لویه اونه جبرانیدونکي فاجعه وه چي تاریخ به یې په خپلو پانوکي ثبتوي . خصوصاً چي جوخت ورسره دمتعصب هندوبي گوند B.J.P دغړو له خوا پرمسلمانانو ، دهغوي په کورونو، کلیو اودکانونو باندي هم حملي پیل شوي.
تردوو زروزیات مسلمانان په شهادت ورسیدل ،په زرگونو کورونه اودوکانونه چور اوداورخوراك شول.
دغه دردوونکي پیښي که څه هم زیات مسؤلیت یې داتراپردیش متعصب حکومت ته چي د B.J.P گوند پوري تړلي و متوجه و،خودهند سیکولرستي نقاب یې هم لرهندي واکمنو څخه لیري کړ،ثابتوالوته یې وښوده چي هندي واکمني دټولو ډنډوړو سره سره چي دسیکولریزم په حق کي یې کوي دهندوبي مذهب ترسختي اغیزلاندي دي . ځکه دهند فدرالي واکمن سره له دي چي ښه پوهیدل دجومات امنیت په خطر کي دي قصداً یې له سهل انگاري نه کارواخست. اودمسلمانانو په غوښتنه یې غوږ ونه گراوه .متعصبو هندوانو ته یې وخت ورکړ چي خپل شوم هدف ته ورسیږي. اودغه جومات یې چي ۲۳ کاله دلمونځ کوونکو پرمخ تړلي و شهیدکړي.
دجومات ترشهادت وروسته چي دنړي دمسلمانانو داعتراض غږاوچت کړ دناراسیمهاراوحکومت وعده وکړه چي داجومات به پخپل ځاي بیرته آبادوي ،خودادي پوره یوکال وشو چي پدي اړوند هیڅ ډول گام نه دي پورته شوي اونه دهندي مسلمانانو مکررو غوښتنو ته مثبت ځواب ویل شویدي.
یکارخوداوه چي مسلمانانو په هماغه لومړي سرکي په زغرده مخالفت کړي او دهندپه وړاندي یې داحتجاج غږپورته کړي واي ،اوترهغه پوري یې ورسره خپلي تجارتي اوسیاسي اړیکي شلولي واي ترڅو جومات جوړشوي واي،ولي دمسلمانانو بې غوري اوخپل
(۷)مخ

جنبش اسلامی حماس مسئولیت قتل دوصهیونست رابدوش گرفت

نوارغزه – ۱٦ قوس :
جنبش مقاومت اسلامي (حماس) مسئولیت کشته شدن دوصهیونست مهاجر رابه عهده گرفت.
به گزارش خبرگزاري فرانسه دربیانیه گروه عزالدین غسان رهبربخش نظامي حماس که روز سه شنبه درغزه منتشر شده آمده است ،به یهوداباراك لوي درستیز ارتش رژیم صهیونستي پیشنهاد میکنیم پیش ازآنکه باعملیات گسترده مسلمانان مواجه شود ،استعفاي خود را اعلان کند.
حماس درین اعلامیه خود افزوده است ،حمله روز گذشته به شهرك هاي صهیونست نشین براي تلافي کشته شدن چهار تن از اعضاي این جنبش ازجمله عماد عقیل رئيس بخش نظامي حماس درنوارغزه وابورحمن صورت گرفته است.
ص(۷)

دائتلافي ځواکونوهوايي قواوويوځل بیادسروبي ولسوالي شاوخواسيمي ترخپلو وحشيانه بمباريولاندي ونيوي

کابل – دلیندي ۱٦ مه :
دکابل ولایت دسروبي ولسوالي څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي دروان کال دلیندي دمیاشتي په ۱٦ مه نیټه دائتلافي ځواکونوجیت الوتکویوځل بیا دسروبي ولسوالي شاوخواداستوگني سیمي ترخپلو سختو اووحشیانه بمباریو لاندي ونیوي .
خبریال لیکي دابمباري چي په پرله پسي توگه ئې دوام درلود دنوموړو سیمویې دفاع اوسیدونکو ته ئې درانده مالي تاوانونه وراړولي دي .
خبریال زیاتوي چي نوموړو الوتکودنغلوبندته نږدي دحزب اسلامي په مرکزونوهم خوېمونه وغورځول خوبه فضل دخداي مجاهدینوته کوم تاوان ندي رسیدلي .
همدارازخبریال لیکي چي دائتلافي ځواکونووحشیانه بمباري شایددوهم ځل لپاره کابل په مسلمانو ښاریانوباندي دبرق سیستم قطع کړي ځکه چي دنغلوفابریکي دبرق سیستم ئې په لوي خطرکي اچولي دي .

سخن روز

ائتلافیون دخپلي ناکامي بدله له مظلوم اولس نه اخلي .

لیکنه انس

له څه دپاسه یونیم کال راپدیخوا چې په کابل کښي دځینو ناعاقبت اندیشه مجاهد ډوله ځیرو اودکمونیستي رژیم دبقایاو ترمنځ نامقدس ائتلاف رامنځته شوي ، له هماغه ورځي ترننه په هیوادکښي دیوه نه ختمیدونکي کشمکش تیاري خبري دي ، چې دسباوون اورنایه امید زموږدمظلوم ملت په زړونوکښي پاللي هیلي هره ورځ له خاورو سره خاوري کیږي اودیوه نامعلوم هدف له لاري زموږدمؤمن ملت ارمانونه تربپښو لاندې کوي.

زموږمظلوم اومسلمان اولس چې څوارلس کلني قرباني یې پخپل ګران هیواد کښي دالهي نظام دقیام له پاره ورکړي وي اوپه دې مقدسه لاره کښي یې دخپل اولس یونیم ملیون شاه ځلمي قرباني کړي وو، ددې هیله یې درلوده ،چې دغه څوارلس کلن ټپونه به یې په ګران هیواد کښي دالهي نظام دټینګښت اوسولي او امنیت په رامنځته کیدوسره مرهم پټي شي ، بیا به په هیوادکښي داسلامي نظام ترمبارك سیوري لاندې دامن ،ورورولي ، بیارغاوني او له یوبل سره داسلام دسپیڅلیو اصولو سره سم دمیني اومحبت ژوندون وي ،داسلامي عدالت ترسیوري لاندې به ټول هیواد وال دخپلو فطري حقوقو څښتنان وي ،وران ویجاړ هیواد به له سره ودانیږي مجاهد قیادتونه به داولس دهیلوترجمانان وي ، د چا حقوق به نه تربپښولاندې کیږي ،دوستي به دخداي له پاره وي اودښمني به دخداي (ج) له پاره ، داهغه مقدس اوسپیڅلي ارمانونه وو چې زموږمؤمن ملت دهجرت اوجهاد داغزنولارویه وهلو په اخلاص اوصداقت سره په خپلو زړونوکي روزلي اوپاللي وو.

خوتیرکال دغوايي په پنځمه چې دغوایانو دغویل تاورین داسلام دلاري دپاکومجاهدینو دمتیوپه زورپاي ته ورسیده ،نوپه سبابي دهیواد په زړه کښي د ائتلافیونو ګوندیمال پیل شوي ، او تراوسه پوري لادغه کیږه په خوله ... هغه په هماغه یوموزي تاویزي ،خودغه لوبه لکه چې دمخه وویل شو هماغه دغوایانو دغویل دتسلسل کړیږه ده ،مسعود اودهغه تراغیزلاندې ښاغلي رباني په یوه موزه کښي دوه پښې نه ایستي دي ،څوارلس کاله یې ملت ته داسلام په نامه دوکه ورکړه اواوس یې داسلام ترسیوري لاندې دکمونستانو په وسیله دکابل دښار یوه برخه ولکه کړي ده ،ملت ته داسلامي دولت ناري وهي ، حیرانتیا ده واك اختیار دکمونستانو اوتاري داسلامي دولت . داخو داسي معني لري لکه څوك چې ووایي اسلامي شراب خانه یااسلامي قمارخانه ، دغرب اوغربي نړي دلاسپوڅو واکمنوسره داسلام اومسلمانو مبارزینو پرخلاف خبري کوي ، داسلامي نظام دغوښتونکیو پرخلاف توطیو کښي له اسلام ضد قوتونو سره تعهدات کوي . اوهمدارنګه له یونیم کال راپدیخوايي داسلام ضد ځواکونو په تغوته داسلامي ځواکونو پرخلاف دهیواد په ګوټ ګوټ کښي دجګړي اوربل کړي دي ، کله دهیواد په یوه برخه کښي له مؤمنوهیوادوالو نه داسلام نه دڅوارلس کلني پاسداري انتقام په یوه بهانه اخلي اوکله په بله بهانه ،کله یې کورونه چوروي او ورانوي یې ،کله یې دتوپونو په ډزو وژني اوکله بیا د"کارمل "پله په تعقیب په بې رحمه بمباریو لاس پوري کوي،اوپه بې شرمانه ډول اعلانوي ،چې ترڅوموپلانې سیمه نیولي نه وي اوپلانې جهادي قوت موله منځه وړي نه وي اوربند نه کوو. داخوداسي معني لري چې افغانستان یوازې دهمدوي میراث وي اوپه څوارلس کلن جهادکښي دبل هیچا څه ونډه نه وه ، اویاداچې دکمونیستانو په څیر دخپل بهرني بادارپه اشاره یوځل بیا زموږپرآزادي مین اولس په ازمیښت کښي اچوي .

خوموږدغوناعاقبت اندیشه اوله تاریخ نه ناخبره دقدرت لیونو ته وایو، چې څوورځې دمخه ستاسي په څیردزوراوزرڅښتنانو ته په همدې هیواد کښي دخپلي بدشکله څیري دلیدلو ائینه په لاس کښي ورکړل شوي ، نوبیا ولې ددې مظلوم خوغیرتي اولس له نه ماتیدونکي ایمان اونه ایلیدونکي آزادفطرت سره لوبې کوي ،پریږدې چې زموږمجاهد اولس نوره دآرام ساه واخلي اوله زوراوتزویرپرته دخپلي آینده دټاکني په خاطر فکر وکړي ، اوس هم وخت لري چې دملت د سرنوشت ټاکني په خاطر دملت رایو ته مراجعه وکړي اوکه نه نو دملتونو قهرډیر زورورله برمه پري ایستلي دي.

دپاکستان دخلکو دګوند پرون ،نن اوسبا ته یوه لنډه کتنه

ف-سلیمانخیل

دپاکستان دخلکوډګوندتاداوپه ۱۹۶۷میلادي کال پاکستان دیوه پخواني صدراعظم ذوالفقارعلي بوټوله خواکیښودل شو. بوټوداکارهغه وخت وکړچې له جمهوررئیس مارشال ایوب خان سره یې دکې مات شو. بوټوچې کوم شعارزمزمه کړهم بالکل نوي واودخپل ګوند دځلیبودزغلولپاره یې چې کومه لاره خپله کړه هم نوي وه .

ددې ګوندشعار دې اسلام زموږدین دی، جمهوریت زموږسیاست دي اوسوسیالیزم زموږاقتصاددي یعني یوداسي شعارچې مسلمانان یې داسلام په نامه . دیموکراتان یې دجمهوریت په نامه اوسوسیالستان یې دسوسیالیزم په نامه پرځان راټول کړل لکه چې دپاکستان ځیني مشهورعالمانولکه مولاناکوثرنیازي چې دزیاتو تألیفاتوخاوندهم دي اوتامترلیکوال هم،اومولانا احتشام الحق تهانوي هم ددې ګوندغړیتوب ترلاسه کړ .

که څه هم چې دپاکستان دعام ولس یوشمیرخلکوخوداسي وګڼله چې هم یې اسلام ته یکې څه خطرنشته اوهم دکوردوډۍ کالي دکمونستي شعارله مخې چې ددې ګوندبه ډیرتکراراوه ورته دړوندانه لومړني اړتیا وي هم مهیاکیږي له دې ګوندسره اړیکي پیداکړي ؛ خوحقیقت دادي چې له عقیدوي پلوه داسلام ، جمهوریت اوسوسیالیزم یوځاي عنوانول اسلام دړوندانه دیومکمل نظام په توګه دمنلومنافي خبره ده، خوعجیبه داده چې په پاکستان کې ټول سیاسي ګوندونه اسلامي ګڼلي شي مازې دمذهبي اوغیرمذهبي ګوندونوپه نامه یکې یوتمیزکیږي مګرسیاسي، مدني اونورحقوق دټولو سره برابردي، هرڅوك له چاسره کښیناستلي شي سیاسي ائتلاف ورسره کولي شي، انتخابي ملاتړیې کولاي شي او...

بوټودخپل ګوند دتصمیم لپاره هم یوه داسي لارخپله کړه چې دهیوادپه ډیروروډیرو اداري واحدونو حتي کلیو اویانډوکي یې نمایندګي جوړي کړي اوله خلکوسره یې اړیکي ټینګښي کړي له همدې کبله یې دمتحدپاکستان (پاکستان - بنګله دیش) په وروستیو انتخاباتوکي دشیخ مجیب الرحمن ترګوندوروسته دویم اکثریت وګاټه مګرداچې دالومړي ځل وچې قدرت له لویدیزپاکستان نه ختیزپاکستان ته انتقالیده ، بوټودي خبري ته غاړه کیښوده اوپه دې توګه دې مسئالي دپاکستان ویشاك ته یوه ښه زمینه برابره کړه .

ذوالفقارعلي بوټوخپل اقتدار په زمانه کې دیومقتدرواکمن په حیث کله دجمهوررئیس اوکله دعظمي صدارت دندي ترسره کړې؛ خوپه پاي کي یې سیاسي ګوندونوفشارونه ونشوزغملاي اودهغه په مقابل کي یې یوملي اتحا دجوړکړ. دهمدې سیاسي اخ ودب پروخت پوځ احساس کړه چې نورچوپه خوله پاتي کیدل ددې ملك دسیاسي مستقبل لپاره زهرجن ثابتیداي شي نوپردې اساس پوځ دلوي درستیز جنرال محمدضیاد الحق په مشري په ۱۹۷۷ کي دهغه داقتدارتخته واړوله اوپخپله یې دعسکري حکومت په اعلانولوسره چارروواګي په لاس کي واخستي .

دبوټودژوند داستان له اقتدارنه دهغه په ګوښه کولو سره پاي ته ونه رسیدبلکې دیوه قتل په توریږي محکمي داعدام حکم صادرکړ. دشهیدضیا ، الحق داقتدار په یوولس کلنه موده کي ددې ګوندغړي ترسخت سیاسي فشارلاندې و. بخپله دبوټوکورني له هیواده ،بهرشیي ورځي تیرولي خودضیادراپرڅولو لپاره یې هررازفعالیتونه کول. په پاي کي ضیابې نظیربوټودذوالفقارعلي بوټولورته اجازه ورکړه چې پاکستان ته راشي؛ خولږه موده وروسته د۱۱۹۸۸ کال داګست په ۱۷ مه ضیادبوي دردونکي هوایي پیښي په واسطه شهیدکړاي شو، نه یوازي دي چې ګن شمیرعسکري لوړرتبه ملګري یې هم .

دضیاترشهادت وروسته دهغه دشهادت په ورځ غلام اسحق خان چې دمشرانو دجرګي رئیس ودقانون له مخې دخپل ملك دسرپرست جمهوررئیس په توګه وټاکل شو. له دې سره جوخت دري میاشتي وروسته انتخابات اعلان شول. په انتخاباتو کي دخلکوګوند اکثریت وګاټه اوحکومت ئې تشکیل کړخوداچې ددې ګوندمشره چې دصدارت عهده یې لرله هم په حکومتي چاروکي یې تجربې وه اوزیاتره هغه وزیران چې ددې ګوندڅخواټاکل شوي وهم چندان عملي تجربې یې نه درلودې نتیجه داشوه چې ددې ګوند شل میاشتني حکومت دجمهوررئیس څخوامنحل اعلان کړي شو، دنویو انتخاباتو نیټه اعلان شوه اوسرپرست حکومت اعلان کړاي شو. په دې انتخاباتوکي دې ګوندسخته اویده ماتې وخوړه اوحکومت دمسلم لیګ لاسته ورغي . دمسلم لیګ حکومت هم تردیرشومیاشتو وروسته دهغوناشکریو په وجه چې دخپل ولي نعمت په مقابل کي یې وکړي دخلکودګوندپه سرنوشت اخته شو اوبیانوي انتخابات اعلان کړاي شول داانتخابات چې دروان کال دنومبرپه شپږمه اونهمه وشول دې ګوندبیادحکومت دجوړولو چانس ترلاسه کړ .

بې نظیربوټو وویل چې داځل له دې سره پخواني تجربې دې اوبیابه دهغوپخوانیو تیروتنومرتکب کیږي نه په دې حکومت کي دمسلم لیګ یوه برخه اوله نیشنل عوامي ګوندنه جلاشوي ډله ورسره شریك دي اوپه همدې توګه یې دجمهوري ریاست په انتخاباتوکي زیاتره واړه ګوندونه دځان ملګري کړل اوپه همدې توګه یې په خپلي انتخاباتوکي هم عمده نشستونه وګټل .

اوس دې ګوندته وړبیښه مسأله ، ددې ګوندمشري له خپلي موراوورورسره کورني اختلافات دي دااختلافات له ډیره وخته موجوداوهغه وخت راپیداشويوروچې کله نصرت بوټوداحساس کړه چې ددې دکورني سیاسي وجاهت دزرداري کورني ته انتقالیږي اوپخپله یې نظیربې هم په دې کي دلچسپي لرله ځکه هغه پوهیده چې که کله شرایط مساعدشي اوجلا وطن وروربې هیوادته راستون شي نوبیاي دګوندپه مشرتابه یې سره څه خوابده اوستونزي رامنځته شي نوله همغې ورځي یې ځانته دیوازي رهبري پاتي کیدو هلي ځلې پیل کړي . کله یې چې مور داحالات ولیدل نوزیاتي منډې تربرې یې وکړې چې دخپل مجرم اوجلا وطن زوي دراوستلولپاره لاره اواره کړي ددې کارلپاره یې له پخواني سرپرست جمهوررئیس وسیم سجاد اودیوځ له مشرجنرال عبدالوحید سره هم وکتل اودي ته یې لاراواره کړه چې خپل زوي ایالتي انتخاباتولپاره کاندیدکړي اودهغه دکامیابولو لپاره یې کمپاین پیل کړ خومرتضی بوټو دهغه دموردډیرو منوتروروسره سره له څواپالتي سیټونوپه ایله بوسیټ وګاټه نوموړي څه موده دمخه کراچي ته راغي اوله راتګ سره سم دخپلو پخوانیو جرمونوپه ارتباط ونیول شو اوموضوع دسندایالت په محکمه کې په جریان کې ده .

داپخپل ځاي خوترکومه چې دبې نظیري اودهغې دمور اوورورداختلاف خبره ده داسأله هغه وخت بالکل ډاګیزه شوه چې دډسمبرپه پنځمه دخلکوګوندداجرائیه شورپنځه ویشتوغړوپه لاهورکي دیوي غونډي په ترڅ کې په یوه خوله پریکړه وکړه چې بې نظیردي دخلکوګوندیوازینی مشره وي اوپه دې ترتیب سره یې دګوند نه مشرتابه کي دهغې دمور داشتراك موضوع حل اودهغې لاس یې دګوندله مشرتابه نه لنډکړ. دډسمبرپه شپږمه نصرت بوټوپردې مسأله خپل عکس العمل وښوداودیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې یې داموضوع ردکړه اوپه همدې توګه یې له بي بي سي له اردوسرویس سره په یوه مرکه کي وویل چې بې نظیري تردې دمخه مانه وویل چې تاپه انتخاباتوکي زمادورورډکامیابولو لپاره دهغه انتخاباتي کمپاین په غاړه اخستي ونوځکه زه تادګوندله مشري نه لري کوم مګرداوهغې صلاحیت نه دي اونه دهغې اجرائیې چې دي راغونډي وه اوپه غلچکي ډول یې زمادلري کولو فیصله وکړه ځکه دازماصلاحیت دي چې زه هغه لري کړم .

اوس خبره داده چې دااختلافات به چې دادي اوس یکې دڅه شك اوشبهي ځاي پاتي نشوبې ظیري ته څه ستونزي راپیداکړاي شي ؟

له اوسنیوجریانونو نه څرګندیږي چې نصرت بوټوبیا یې نظیري ته کومه دملاحظې وړستونزه پیداکړاي نشي ځکه نصرت بوټو دخپل زوي دکامیابولو لپاره خپل قوت اوپه ګوندکي خپل وجاهت وازمایه خوهغه یې مازې له یوه سیټ نه کامیاب کړاي شو اوپه همدې توګه دګوندداجرائیه شوري دومره واضح اکثریت څوایه یوه خوله دبې نظیري دتأیید غږداچوتوي چې په

(۷)مخ

افشاي حقايق اززبان سردمداران ائتلاف

محمدرحیم

دراین شکي نیست که ادارۀ ائتلافي کابل به منظوررسدساختن پیروزي کامل نظامي وسیاسي مجاهدین وجلوګیري ازاقامۀ حکومت اسلامي درافغانستان پایه ګذاري شدوتااکنون براي نیل به این هدف عناصرتشکیل دهنده ائتلاف یعني مجاهدنماهاوکمونیست هاي مزدور شب وروزعرق ریزي دارند تایګانه تنظیم راکه ازآغازبقدرت رسیدن کمونیست هاتاتجاوز مستقیم روس هاوتاالحال براي اقامۀ نظام اسلامي جدوجهدمیکندتحت یك برنامۀ منظم نظامي وسیاسي که ازجانب دشمنان اسلام هدایت ورهبري مي شودهدف حمله قراردهند وهمواره تلاش ورزیدندتامسئولیت همه جنګ هاوهمه مشکلات موجودراازطریق رسانه هاي خبري چه به سطح ملي وچه به سطح بین المللي باوارونه جلوه دادن حقایق به حزب اسلامي حواله کنند وخودرا پاك ومنزه جلوه دهند . وحتي که باسفیدچشمي تمام هراقدام دفاعي حزب رابه منزلۀ سرکشي وطغیان ازحکومت اسلامي مي شمارند وګردانندګان ائتلاف چه ازطریق وسایل ارتباط جمعي خودوچه ازطریق رسانه هاي خبري جهان باطعن ولعن واستعمال الفاظ نامناسب برحزب اسلامي میتاختند. ولي درپایان همه این زدوبندهاي ناروابالاخره مایوس وشکست خوره برجاي خویش مي نشستندواز طریق اعزام هیئات مصلح وقفه ئي ایجاد نموده ودرفکر جمع وجورکردن برنامه هاي شیطاني شان مي شدند .

ولي مصاحبه هاي اخیرزمامداران ائتلاف درحقیقت برهمه ادعاهاي حزب اسلامي صحه ګذاشت که این حزب همواره براین مطلب اصرارداشت که جنګ برماتحمیل مي شودومامجبوریم ازخوددفاع کنیم وجانب مقابل به تعهدات خویش پابند نیست واین انحصارطلبان عظمت طلب باشرکاي کمونیست شان تحت هیچ شرایط آماده پذیرش حزب دردستګاه حکومتي نمي باشند . ولي درمقابل ائتلافیون بانشراکاذیب به کتمان این حقایق مي پرداختند اماهموطنان ماشاهداندکه مصاحبۀ اخیرمسعودبامجله الوطن العربي کاملاً ماهیت اصلي آنان راآشکارساخت .

مسعود دراین مصاحبه درپاسخ به یك سوال میګوید: که نزدمااستراتیژي ئي است که طبق آن حکمتیارچاره ئي جزجنګ ندارد . بلي این جواب سپه سالار مدهوش ائتلاف چون آفتاب روشن میسازد که همه جنګ ها برحزب تحمیل شده وحزب هم ازخوددفاع کرده است تاجاییکه موصوف اضافه میکندکه حکمتیارحتماً ازبین رفتني است . مانمیدانیم که این علم راجناب ایشان ازکي حاصل کردند که حکمتیاردرنتیجه طرح هاي شیطاني آنان ازبین رفتني است، نامبرده ازشرکاي کمونیستش بپرسدکه کاجي بې باداشتن شبکه هاي وسیع بین المللي وامکانات وافرتاچه حدسعي وتلاش کردتا حکمتیار راازبین ببرد اماتاچه حد موفق شد؟ حکمتیارزنده است ولي امپراطوري شوروي معه چندین تن ازامپراطورهاازبریژنف ګرفته تاګورباچوف همه نیست ونابودشدند ویاازصحنه کناررفتندکان شاء الله تاآنګاه که خداوند نخواسته باشدبرنامه هاي شیطاني دشمنان جامه عمل نخواهد پوشید اماجناب ایشان باید بدانندکه مسلمان هرګزازمرګ هراس ندارد شخصي چون حکمتیاربارهااعلان کرده که یاحکومت اسلامي یاشهادت .

مسعود درقسمت دیګرازمصاحبه بدون درنظرداشت پاسخ قبلي شان اظهارمیدارندکه آنهاقصدبراندازي حکمتیاررا ندارند ،این بدان خاطراست که خودرا یك شخصیت صلح پسندمعرفي کنند بدون آنکه اظهارات قبلي شان رابیادداشته باشند همچنان نامبرده باآنکه خودرایك مسلمان میانه رومعرفي کرده است نظام وحکومت دلخواه اش رانظام دیموکراتیك واعاده دیموکراسي ازنوع غربي معرفي کرده که براي یك مجاهدوقوماندان که سال هاي سال دعوادارجهاد باکمونست هابوده لازم نیست . مسلمان ، مسلمان است میانه روتندروندارددونظام دلخواه اش اسلامي باشد . ولي موصوف براي خوشنودي غربي ها ازکلمه دیموکراسي ومیانه روکارګرفته است تاررضایت آنان حاصل کند .

همچنان موصوف دراین مصاحبه اش باغرورتمام اظهارداشته که جنګ آنهاباحزب اسلامي وحزب وحدت نبوده بلکه درحقیقت جنګ باایران وپاکستان است واضافه میکندکه همان طوریکه درمقابل تجاوزروس هاایستادیم بااین هاهم همین طورمي جنګیم .

ازاین جواب آقاي مسعود معلوم مي شودکه وي تاچه حد درمقابل دوستان این ملت زجرکشیده قسي القلب وبرشمنان این ملت شفیق ومهربان است؛پاکستان وایران درطول جهاد ازمجاهدین ما درصحنۀ سیاسي حمایت کردندوازمهاجرین ماتاالحال میزباني میکنند ولي آقاي مسعود باایشان درجنګ است ودرعوض باروس هابخاطراینکه روزانه چندین طیاره بانکنوت بې پشتوانه براي اکمال هزینه هاي جنګي آنان ارسال میکند بادرآغوش ګرفتن کمونست هایي چون بابه جان ، ببرك وغیره دوستي دارد وکوچکترین دشمني اش را درمقابل روس هااظهارنمیدارد درحالیکه خودرایکي ازقهرمانان دفع وطردتجاوزروس هامیپنداشد. اګروي دراین ادعاي خود صادق است پس چراکمونیست هارادرآغوش ګرفته وتمام مناصب عالي رابه آنان سپرده است وتقریباً طورکامل تابع قوماندۀ آنان است وچون زمان نجیب سلسله ارسال پول به شخص وي جاري میباشد درحالیکه روسیه دشمن ماوملت ماودشمن عقیده ودین مااست وبراي امحاي کامل مابه کشورمالشکرکشي نموده بود. آیابه آغوش ګرفتن کمونیست ها وادامه ارسال بانکنوت هاي بې پشتوانه نشانه دوستي موصوف باروس ها نیست ؟ ګویند: چیزیکه عیان است چه حاجت به بیان است" درنظروي اکنون قاتلین ملت مسلمان ماوراي وي دوست وکشورهاي همسایه وبرادرپاکستان وایران که ازجهاد ماحمایت کردند دشمن اند. بلي این نظرکمونیست هاست وجناب ایشان هم چاره ئي ندارند جزاینکه ازنظرات دوستان کمونیست اش پیروي کنند. بدین ترتیب ائتلاف عامل همه بدبختي هاومسئول همه جنګ هادرکشورماست تاجاییکه اکنون هیچ جاي انکاربراي شان باقي نمانده، است.ازخداوند آرزوواستدعاداریم که بنیاداین ادارۀ شیطاني رادرهم وبرهم سازدوملت مارا ازآن نجات دهد .

دمخابراتو دوزیر ...

دوحدت اسلامي دنظارت دعالیه شوراغړي محترم آیت الله صادقي «پرواني» عالمانو،پوهانواودکابل

اموال ودارایی های...

اسامبله ملي پاکستان طي کنفرانس خبري یې ګفته است : که یك هیئت به خاطر بازنګهداشتن راه تاوه پاس وحفظ جان ومال مسافرین باوالي ولایت کنر معاهده اي راامضا نموده است . مولوي عبدالرحیم چترالي اضافه نموده است که قوماندانان مجاهدین درزمینه وعده هرګونه تعاون وهمکاري نموده اند.

بنګله دیشی لیکواله...

دمذهبي ټیکه دارانوپه منګولو کي ونه لویږم زمالدي ټولو سره جګړه ده ، دژوندتراخري سلګیوپوري، زه پدي هم پوهیږم چې زمالدي اعلانونوڅخه به ډیرمسایل راته پیداشي، ژوند هم یکې له لاسه وتلاي شي، خودیوه « هدف » او« مرام » !! په وړاندې ژوند څه معني لري ؟

په انګلستان کې میشته سلمان رشدي هم دټولي نړي له ملایانو!! "سره په جګړه لګیادي، زه دسلمان رشدي له افکاروڅخه دنوي ژوند حرارت ترلاسه کوم ."

خلاصه ویلاي شوچې دتسلیمه نسرین په شکل نن اسلامي نړي له یوي بلي خطرناکي فتني سره مخامخ ده ، اوس به زمونږ سترګي ددې انتظار باسي چې ددې فتني دمخنیوي لپاره څوك راوړاندې کیږي ، ځکه داسلام دین حرمت له یوه بل خطرسره مخامخ دي .

پوهنتون یوشمیراستادانو ګډون کړي وو نوموړي سیمینار به دري ورځي نورهم دوام وکړي .

اویوب کانیك خواستارمداخله سریعترجامعه بین المللي دربوسنیاشد

سرایبو-. ۱٦ قوس ،

ایوب کانیك معاون رئیس جمهوري بوسنیا هرزګونیا جامعه بین المللي رابه مداخله هرچه سریعتر بخاطر متوقف ساختن قتل عام مردم بوسنیاازسوي ملیشه هاي صرب فراخواند.

به ګزارش خبرګزاري فرانسه وي روز ګلشته در یك کنفرانس مطبوعاتي همچنان ازکشورهاي غربي بخصوص امریکا وانګلستان به دلیل نقش غیرفعال ومنفي آنها انتقادنمود.

پاکستان له هند نه غوښتي چې بابري جومات له سره جوړکړي.

اسلام آباد د لیندي ۱٦،

دپاکستان حکومت له هند نه غوښتي چې بابري جومات دې له سره جوړکړي.

دپاکستان دبهرنیوچارو دوزارت په یو اعلان کې ویل شوي چې داد خواشیني خبره ده چې هند خپله ژمنه لاسرته نده رسولي.

په اعلان کې ویل شوي چې که هند په خپله ژمنه وفاوکړي نودابه یوه برښه کاروي اواسلامي نړي به یې هرکلي وکړي.

دجمعيت اوشوراى نظاريه نسبت دهيوادوالو بى باورى اوكركه په زياتيدوده

ابوشمس الرحمن

له كومي ورځي نه چي په كابل ښاركي دشوراي نظارجګړه ماروډېخواني كمونستوجنرالانو په مرسته ،پښه ايښي او په زوراوجبر سره يي دقدرت دخپلولو هڅې په كاراچولي نودهري ورځي په تيريدوسره يي په جنگ ځپلي ولس كي د اعتماداوباورتوله سپكه ختلي اوډنفرت ورګرځيدلي دي.

ددغو ادعاګانو څرګندي بيلګي كيداي شي د ١٣٧١ كال دثورډمياشتي راپديخوا يوه يوه وشمارو .خودغه كاربه ډيروخت وغواړي اوهم به يي دكاغذپرمخ ستل هم ممكن نه وي په مختصر ډول كولاي شو ځينو مهمونكوته اشاره وكړو:

كله چي دشوراي نظارسردمداريه جبل السراج كي دامريكادځانګړي استازي تامسن اودنجيب دمرتدرژيم د پاتي شونوكمونستو جنرالانو په سلامشوره دكابل دقبضه كولواويه مجاهدملت باندي دځان واكمن كولوانتلافي پلان جوړكړ نودكابل په ښارباندي ديومخيزهجوم ورلوپه صورت كي بي پرځاي ددي چي دېخواني ملحد رژيم دبقاياو په ځالوحمله وكړي ،هغوي بي وسلي كړي ، هغوي دخپلو تيروجرمونو دمحاكمې لپاره توقيف كړي برعكس بي دجهادي تنظيمونو په تيره دقهرمان اومجاهد تنظيم حزب اسلامي دڼاتورومجاهدينو په وړاندي سنګرونيو اودهغوي دپرمختګ لاركي يي خنډ» راپيدا اوكمونستان يي په ځان راتول كړل پداسي حال كي چي داهغه وخت ؤ چي دكابل ښاريانو دحزب اسلامي دمجاهدينو دهركلي ناري سوري وهلي اويه خپلو كورونو يي شني جندي جګي كړي وي خودشوراي نظاراونوروكمونستو جنرالانو لپاره دحزب اسلامي دڼوراندي تګ اويادهغوي په لاس دكابل ښپږه آزادي دقبول وړنه وه بلكي ديوسترخطراحساس يي ورځني كاوه نويه لوموي سركي دشوراي نظارځان خوبس اوقدرت طلبه آمرصاحب (!) حزب اسلامي اونورومجاهدو تنظيمونو ته وښودله چي دكابل واكمن به زه اوجمعيت وي ،كه هرڅوك زموږترقوماندي لاندي ژوند كړي هغه به ددي حق ولري چي په حكومت كي حق وركړل شي . دآمرصاحب (!) دابي ځايه اوله حقيقت څخه ليري خيال پلودهيڅا له پاره بيابه تيره دحزب اسلامي لپاره خوبالكل دمنلو اوقبلولووړنه ؤ. داځكه چي له حزب اسلامي سره دځان دمطرح كيدو اوياڅانته دقدرت دخپلولو په خاطرله هرچانه ړومبي په كابل ښارباندي دنجيب د ملحدرژيم دړنګيدو لپاره حمله نه وه كړي بلكي له هغې سره دټول مظلوم اودځوارلس كلن تپل شوي جنګ په اوركي ستي شوي ولس رواهيلودترسره كيدو مقصد غوره اومخكي ؤ ځكه بي بيله ويري اويه ميړانه سره دكمونستانو څخه ملكي اوپوځي ځايونه نيول او په ښاركي دچورچپاول اوبدنامه حالت دراوستودمخنيوي باعث وګرځيدل

چي دكابل ښاريانو دهركلي ولولي بي يوه څرګنده بيلګه وه خوجناب آمرصاحب (!) داهرڅه ناديده ګڼل بواځي دخپل ځان دواكمن كيدو په نيلي سپور ؤ اوپدي بي تركيز درلود چي له دي وروسته به بواځي زه يم چي دافغانستان دچارودواكي پړي به زمايه لاس كي وي اومخالف كس به حتمي اوضروروټكول كيږي نوځكه بي دحزب اسلامي دمجاهدينويه مقابل كي د شديد عكس العمل څخه كارواخيست چي حتي دكابل ښاريه وراندويي هم صرفه ونه كړه اوله هري وسيلي څخه يي كاراخيست.

ترڅوداورته دردسر مجاهدين له كابل څخه څه چي حتي له صحني څخه بي وباسي چي ترڼن پوري بي دغه وحشت پرځاي پاته دي . خو دالله تعالي اراده بل شانته وه ،بيله دي چي حزب اسلامي دكابل ښاريه منځ كي دهغي په مقابلي كولو لاس پوري كړي دابي مناسبه وبلله چي ښارشاوخواخپل جهادي سنګرونه مستحكم كړي او كابل ښارله يوي مخي وران ويجاړنشي »

اوپرېږدي چي آمرصاحب (!) په هيواد كي امن اوسوكالي راولي ، دچورچپاول مخه ونيسي ،نوردخلكو په ناموسونو او عزتونو باندي ملنډي ونه وهل شي ، خوبرعكس هغوي دخپلو ظالمانه اووحشيانه عملونو په اجراكيدو سره داسي رسوااوبي اعتماده شول چي د بيا رغون اوباورپيداكيدو چل ورځني ورك شوي دي، دژوندانه اوسلطي حلقه يي دومره تنګه شوي چي دكابل په ښاركي له خپل هستوګنځاي څخه دوه كيلومتره ليري واټن په خپل واك كي نلري اونه يي راوستلاي شي ، خيرالماكرين خداي (ج) ددوي هرڅه برملا اورسواكړل.

دكابل اداري واكمنو دكابل ښارڅخه دحزب اسلامي دځواكونويه وتلوهم اكتفا ونكړه ،بيا هم بي دوروري اوحق سپارلولاس اوږدنکړبلكي وخت ناوخت بي دحزب اسلامي په جهادي سنګرونو باندي هوايي اوځمكني بريدونه كول ،په كابل ښار كي دخلكو دګني ګوني ځايونه يي په توپونواوراكټونو ويشتل اوبيابي په دروغوسره ملامتي په حزب اسلامي ورتپله،په ښار كي چور ،چپاول ،بي عفتي ، بدرنګي ،بي امنيتي رسوا حد ته ورسيدله ، د ښاريه دننه كي بي جهادي ډلي په جنګ اچولي چي په نتيجه كي به دعالمونو دقتل اوكوروراني باعث وګرځيدل

چي دا اوديته ورته ډيري نوري بيلګي شته چي دجمعيت او شوراي نظار دخام فكري او په خلكو كي د بي باوري باعث ګرځيدلي دي . لذي آخواكله چي دجمعيت اوشوراي نظارمشران دحزب اسلامي دمجاهد اميرسره دروانو كړكيچنو مسائيلو دحل وفصل لپاره ناسته ولاړه اولاسليكونه وكړل اوبيا وروسته بيله څنده دشوراي نظاراودهغه دائتلافي اندېوالانو له خوانقض شوي چي څرګندي ګموني بي دپغمان اوپلچرخي ليدلي كتلي دي چي دولس اعتمادبي دخپل ځان په نسبت راكم كړي دي . همدارنګه داسلام آباد ،مكي مكرمي اوجلال آباد تاريخي غونډي چي زموږدجنګ ځپلي ولس لپاره داميد ځاي وچي ان شاالله نوريه دامشران په خپلو تعهدونو وفا وكوي ،دادردونكي اونه ژغمونكي حالت به خاتمه ،مومي ،په خپل هيواد كي به مسلم انساني ژوند ترسره كړي دځوارلس كلن جهاد ثمره به اخلي ،دشهيدانو ارمان به پوره شي اوبالاخره به جبل لاس پدي كمونستي رژيم ځپلي هيواد كي سوچه اسلامي حكومت جوړكړي،ولي متاسفانه چي داهرڅه دجمعيت ،شوراي نظاراودهغه دائتلافي كمونستو اندېوالودځانګړيوګټوقرباني شول ،آرامي خوبرېږده ،دارمانونودپوره كيدو لاري چاري خو پريږده بلكي دهري ورځي په تيريدوسره ددغوبي رحمو ائتلافيونو له خوا نوي دردونكي حالت مسلط كيږي اويه زورسره داملت جنګ ته كښول ،دغوني په توګه بادولاي شوچي دسږكال دثوريه مياشت كي چي دلا مشران ددي غمجن حالت دختميدولپاره په جلال آباد كي راغونډشوي ؤ ، پريكړي بي كولي لاري چاري بي سنجولي ،دحكومت كابينه بي جوړوله خودشوراي نظار بي رحمه اومتعصب واكدار دوخت نه په ناوړه استفادي سره دپروان - كاپيسااوتګاب په سيموكي دحزب اسلامي په مجاهدينو اوحتي متعهدينوبي يومخيزه وحشيانه بريدونه وكړل څوك بي ووژل ، دچابي مال اوشتمني لوټ كړه اوڅوك بي هجرت كولوته مجبوركړل اويابي پدي مجبورول چي د حزب اسلامي دتعهدڅخه لاس په سرشي اوزما

٦مخ

فشرده يي ازدگرگوني هاي سياسي افغانستان

از دهه اول تاهفتاد وپيامد هاي آن

پیوسته به گذشته :

بقلم : افغان

،بااين وضع دردهه (٤٠) ازفرط ونشاط بدرفتاري عمال اداري ، فسا داداري واخلاقي دركشوربااوج رسيد. ازيكطرف ارباب، ملاك، خان وقريه داردرميان توده عليه مستضعفان بزورآزمائي هاپرداختند، وازطرفي عمال وحكام جوگ آسابجان اين امت مسلمه افتيدند، درين مرحله كه مردم مستضعف ازفرط فشاردستگاه جباروغيراسلامي چاره اي جز افراشتن دست التجابه خداناداشت، صبراسلام دوستان حق پرست بسر آمدونياميزم اجتماعي، (بپاخاستن هاي مسلمانان عليه بيداد دولت) بجايي رسيدكه ظاهرشاه باصحنه سازي چندازجمله يكي تباني «تجريداعمام وبني اعمام از سلطنت وسياست » و بميان آوردن حكومات بظاهرملي، متشكل ازذوات غير خانوادگي شاه ، ودرواقع فاقدهرگونه صلاحيت ، بازهم نتوانست ازجوشش مردم، عليه دولت خودكامه اش بكاهد. تاسرانجام طرح نادرست واسلام سوزي ريخت كه درآن ازتاروپودهمان قماش فرسوده درهم ريخته ملحدان روسي خورد وخوردتركرد، كه ميشود ايجاد حيله هاي نامردانه مقابل قيام هاي علماي ديني وكارگزاران مؤمن بخدا، عليه رژيم غيراسلامي، مخصوصاً سربه نيست شدن علمبرداران دين الهي چون : مولينا حبيب الرحمن شهيد، انجنير حبيب الرحمن شهيدواستادغلام محمد نيازي دراوائل دهه ٥٠ را ناشي ازهمين فاجعه ومجاملت دولت هندوستان وروسيه شوروي باظاهر داود انگاشت . همچنان پيامد هاي مبني برخلع شاه ، كودتاي قلابي داود، بميان آمدن دولتهاي كوتاه مدت كمونستي چون :« تركي ، حفيظ الله امين ، كارمل ان (شاه شجاع) ثاني، خروج ننگين ويراافتضاح قشون سرخ ،دريهاي خون يكنيم مليون شهيدافغان » طي مدت ١٤ سال تنازع بين الحاد واسلام دانست وبالاخره سقوط رژيم دست نشانده كمونيزم رادرسال ١٣٧١ وورودفاتحانه مجاهدين بخاطرتاسيس حكومت اسلامي درافغانستان ،ودامن زنيهاي مبني برراه انداختن نفاق درميانه تنظيم هاي جهادي، بخاطرجلوگيري ازتاسيس يك حكومت مستحكم اسلامي محصول جهادمؤمنان درافغانستان راميتوان نتيجه همين تباني مثلث دراتحاد سري نامقدس دانست كه تفصيل اين همه پيامد هارا از ١٣٠٠ عهدامان الله تاكنون به نگارش گرفته ان شا الله شاه وشهي . محض بارنگ ولون تازه تري وقماش جديدي بنام جمهوريت قلابي، موفق باقدوبالاي داود بافت وخودبه بهانه تداوي چشم رخت سفربايتاليا بست وداود باعملي ساختن پلان ، كودكانه يكمك كمونستان وبااستفاده ازحمايت رژيم هندوستان واتحاد شوروي وقت كودتاي قلابي براه انداخت وبراريكه قدرت برنشست وچون وضع درافغانستان بدترازوضع سياسي زمان ظاهرشاه ، مي نمود، بناً قيام هاي ديني عليه داود اوج گرفت «هرچنددرين مرحله ازمراكز روحاني، روحانيون شناخته شده دركشور، كه متاسفانه باتطميع دولت مكارسلاله نادرداود طي پنجاه سال تسلط ظالمانه برافغانستان وضع وصورتي بيش ازهيئات مرغابي هاي ساخته وپرداخته دست صيادان محيل نداشت، كارمؤثري از مؤمنان بپاخاسته عليه رژيم برنخاست وصرف جوانان نوخاسته مؤمن مدارس ، پوهنتون وعلماي ديني وساير اقشارمؤمن وخداپرست بودكه ازجمله ميشود بذكرشهيدمولاناحبيب الرحمن ،انجنيرحبيب الرحمن واستادنيازي وغيره بحث كرد » وبتاسي ازين مبارزه دوامدار ودنباله داربودكه نه تنها رژيم داود بلكه تمام آن سازشهاورزديدند يكه دولت شوروي وهندوستان ضدمسلمانان منطقه بااين رژيم مزدور داشت يكي بعد ديگرخنثي وطشت افتيده ازبام شد. رژيميكه بحيث مزدور دولت هندوستان وروسيه شوروي «مزدورهندوستان ، بخاطرتضعيف توده ١٧٠ مليوني نوبنياد پاكستان ، مخصوصاً بخاطر خموش ساختن فريادهاي آزادي خواهي مردم مسلمان كشمير ومليون هامسلمان مستعضف دگردرشكم هندوهاي مشرك واما مزدور رژيم كمونست روس شوروي ،بخاطرسركوب جنبش هاي آزاديخواهي بيش ازشصت مليون تبعه مسلمان آسياي ميانه «سمرقندوخوقندسابق » درحلقوم اژدهاي الحاد روسيه » جزتخته خيز دولتهاي جابرعليه مسلمانان منطقه بيش نبود چنانچه اين روتن (ظاهر ،داود) درين خوشخدمتي تاحدي به نفع «هندوستان وشوروي » موفق هم شدند ، زيرا « بنگال شرقي» ديروزوبنګله ديش امروزبه صفت بازوان نيرومندكشورپاكستان، درهمين تباني ازپيكرپاكستان جداګرديدو تنازع كشمير، همچنان طي پنجاه سال گفتگووكشمكش هابه نفع هندوهالاينحل ماند . امابايد باورداشت كه بحكم اين آيه مباركه «قل جاء الحق وزهق الباطل ان الباطل كان زهوقا » درين مبارزه هيچگونه توطئه راالميتوان مؤثردانست و خون يكنيم مليون شهيد راه حق حيف نخواهدگرديد . والله خيراً حافظا

زيرا: چراغي راكه ايزدبرافروزد
هرآنكس پف كندريشش بسوزد

جنايت كاران تقبيح شوند

برادرمحصل ماحيات الله ازمعهدعالي تربية الاسلامي ازتاون پشاور طي نامه ئي به روزنامه شهادت ازاختلافات ذات البيني مجاهدين يادآوري كرده بهد شكوه وشكايت شان ازمجاهديني كه كمونستان رادرآغوش گرفته ،اندك اندك تحت تاثيرانهاقرارگرفتندبلندشده است

برادرحيات الله از علما، موسفيدان وجوانان خواسته ست تاجنايت كساني راكه دربرابر مجاهدين مي جنگندوازكفروكمونيزم حمايت مي كنند، صريحاً تقبيح ومذمت نمايند وهكذا شخصي را كه واقعاً برضدكفروالحاد است به عنوان زعيم كشورانتخاب نمايند .

برادرمحصل ماازفرارسيدن قيامت وبي مسئوليتي مسئولين كه درآن روز(قيامت) سخت پريشان خواهندشد نيزيادآوري كرده است .

دمحمود عابدليك په ځواب كي

محترم ورور محمودعابد صاحب ! ليك دي راورسيداوټكي په ټكي مولوست . تاچي څه ليكلي وبه هغه موښه غوروكړ ترڅوبيخپل ګناه پوښو، خوخداي حاضردي چي موږ ستاسي ټول هغه الزاموته چي په حزب اسلامي مولګولي دي بي بنياده وموندل ستاسي يو الزام هم داسي نه وچي هغه ثبوت ولري اودشريعت حكم داوي چي ترڅوپوري ثبوت نه وي نوبرچه دي فيصله لاځه چي ګمان قدري هم وربياندي مكوي . دشهيدمولوي منصورقاتلين اوهمدارازومحمدامين فروتن ويشتونكي حزبيان نه بلكي داسلام دښمنان كمونستان وو. مولوي صاحب محمدنبي پخپله همداخبره كړيده چي مولوي صاحب منصوركمونستانوشهيدكړيدي خوافسوس دي چي ته په حزب اسلامي بي ځايه تهمتونه لګوي دقيامت په ورځ به خداي ته څه حواب وواپي

قدرمنه ! ترڅوسه پوري دشهادت اخبارفاسقان فاجران اوملحدين ته دي تقدير كړي، دحضرت صاحب سره به دحزب بعضي وخت سياسي مخالفت راغلي وي خوشهادت اخبارورته كله هم پخپله حضرت صاحب په بد نامه ندي يادكړي موږهروخت ورته داحترام په نظركتلي دي كه ستاسو نظرحضرت صاحب بدبنكاري هغه ستاګناه ده خوموږورته بدعمله اويدكرداره نشوبلي ځكه چي داداسلام خلاف كاردي اودمسلمان توهينول په اسلام كي منع دي، دشيعه ګنوبه باب به دومره درته ووايم چي دوي هم مسلمانان دي كه دوي مسلمان نه واي نوبيا علماؤ به په يواتفاق فيصله اوفتوي وركړي واي چي له حج نه ئي منع كړي ذبيحه اوحلاله بي نه جوړي حال داچي ددنيا ټولو مسلمانانوسره يوځاي دحج مراسم اداكوي. داعجيب انصاف دي چي دولت سره ملګري شيعه ګان ستاسي په نظر مسلمان ښكاري خوچي حزب سره وي هغوي كافران افسوس دي ستاپدي فيصله پدي كي هيڅ شك نشته چي مرحوم شهيدجميل الرحمن صاحب دحزب اسلامي يومهم شخصيت ؤ له هغه سره حزب كوم عقيدوي اختلاف ندي كړي اونه ئي وريسي څه بداورولبكلي .

محترما ! حزب بواځيني تنظيم دي چي له اختلافاتونه ئي هروخت ډډه كړيده ټولوتنظيمونوته ئي دوحدت اووروري لاسونه وركړيدي خوافسوس دي چي ځيني تنظيمونه حزب سره بي ځايه دښمني كوي . الله پاك دي موږټولوته دانصاف اوعدل كولو توفيق راكړي .

دمسعود كوربار

دننګرهارپوهنتون محصل محترم ورور ريحان الله "رحيمي" له يوي مقدمي وروسته ليكي :

محترما : زه به ددي پورتني ويناويه رڼاكي داحمد شاه مسعود دليږل شوي ليك په باره كي څه ناڅه خبري وكړم . هغه داچي احمدشاه مسعود دځوارلس كلن جهاد اوهجرت په اوږدو موده كي خپل ځان دجهاد اواسلام په سنګلواومزيتو جامو ښايسته كړي و اوخلكو ته يي ځان داسلام ددين اوهم دجهاد اصلي مجاهد او قومندان معرفي كړي و. خلكو ته يي دومره اعتبار وربخښلي و چي هرچابه ده دنوم سره سم دشيرپنجشيراوسترمجاهد لقب هم يوځاي كاوه اوډ ده نوم به يي په ډير درنښت سره اخيسته .خوبالاخره ده داسلامي انقلاب دپيروزي اوكاميابي نه وروسته خپله اصلي څهره اوخپل اصلي هدف اوتګ لاره ښكاره كړه ووهېوده ،داسلامي ګوندونو سره يي بغض اوعداوت شروع كړ، دهوسايني په ځاي بي خلكو ته تكليفونه ،كړاوونه اوشكنجي ورپه برخه كړي.

خوهماغه متل دي چي وايي : كوربار ،ترمنزله نه رسيږي . هغه داسي چي احمدشاه مسعود دپاكستان نوي صدراعظمي بي نظيربوټو ته دهغي دكاميابي اودهغي دمقابل اسلامي ګوندونو په ناكامي يي خپله خوښي اوخوشحالي څرګنده كړيده اومحترمي بي نظير بوټو ته يي داستولي پيغام په ترځ كي ويلي چي دپاكستان دخلكو دګوند (پيپلزپارټي) برياليتوب دبنيادګرومسلمانانو ناكامي ده په پيغام كي بي دا هم ويلي دي چي دبنيادګروناكامي دافغانستان لپاره هم بولوي زيري دي . يعني دلته به هم دابنيادګره مسلمانان ناكاميږي ... خونه داخوب دي اونه واووي !

زه په آخره كي احمدشاه مسعود ته همدومره ويل غواړم چي :

افغانستان دبنياد ګرو مسلمانو اصلي مركز اوكوردي ، دلته پخوا انګريزانو اواوس اوس هم د نړي سترکمونست ځواك روسيه (شوروي) تاريخ ته هيرېدونكي ماتي خوړلي ده چي دتاريخ هره صفحه به يي په يادولري پاتي نورروغيراسلامي ګوندونو ته خويه داسلام واره واره بچيان هم خوله ماتوونكي جوابونه وركړي اودهميش همېش لپاره به يي تسكوروساتي . والسلام .

ستاسو ورور ريحان الله "رحيمي" دننګرهار پوهنتون محصل.

دعبدالجليل صادق دليك په ځواب

دشهادت ورځپاڼې محترمو كاركونكوالسلام عليكم ورحمت الله وبركاته .

وروڼو ! الله تعالي (ج) دي نورتوفيق هم دركړي ترڅو خپلووطنوالواونورټولومسلمانانوته دخدمت مصدروګرځي .

* راځم خپل مقصد ته اوهغه داچي دشهادت ورځپاڼه اوس شكر فضل دخداي دي دومره شايقين لري چي انداز بي نشته اوداټول دهمدي اخبارحقيقت نه پټول اوبي طرفي ده يعني دا اخبار سوچه حقيقت وايي اودهيڅا طرفداري هم نه كوي.

په همدي خاطر زمادڅخه ډيرخلك غواړي چي اخبارورته ورسوم اوهروخت خلك ماته وايي چي دبهه بيري لپاره اخبارراووړه اوحقيقت هم داده چي دبهه بيري خلك ډيرشوق اوعلاقه لري ترڅوله همدي جريدي څخه ځان مستفيدكړي.

خومتاسفانه چي زموږ ځاي دپيښور ښارڅخه لرليري دي اوهروخت هريونفر نشي كولاي چي په اخبارپسي پيښورته لاړشي .

اوس زه غواړم دبهه بيري تهاني كي چي زمادانګليسي ژبي كورس دي اوهمدلته دشهادت نمايندګي جوړه كړم ترڅو دي خلكوته سهولت او اسانتي پيداشي . ستاسي ورورعبدالجليل صادق

شهادت :

محترم ورور عبدالجليل صادق سلامونوته دي وعليكم السلام وايو اودكړيوپيشنهادونويه باب به درته عرض كړو چي كه غواړي په مطلوبه ځاي كي دشهادت دپلورلونمايندګي جوړه كړي نودپوره معلوماتو دحاصلولولپاره پدي دريوورځو (يكشنبه ،سه شنبي ، پنجشنبي) دسهار له مخي دبورډ بازارته تشريف يوسي اوهلته دشهادت اخبار دنمايندګي پوښتنه وكړي ،زموږ دتوزيع ورورپه همدي ورځوكي اخباردروري اودنمايندګي په اړوند ورسره مفاهمه وكړي .دبل پيشنهاد په باره كي به عرض وكړوچي مضامين اواشعاركه دچاپ حق ترلاسه كړي نومناسبه حق الزحمه هم لري اوهرڼګه اعلانونه په بيه نشرته سپارل كيږي چي بيي يي يو دبل سره توپير لري بواځي دشهدادفاتحي اودماشوم دوركيدو اعلانونه وړيا نشريږي دپوره معلوماتو دحاصلولولپاره زموږدتوزيع له مسئول سره خبري وكړي.

جهاد بيرته له سرنه شروع دي

محترمو زه خويښتني كوم چي هغه دشهادت پواسطه دافغانستان ملت ته رسول غواړم .

- أ. په افغانستان كښي چي موږروسله وال جهاد شروع كړي وو نوهغه موږ دكمونستانو په مقابل كښي شروع كړي وو چي په سركي بي تره كي -كارمل - نجيب -كشتمند - محمود بريالي - امين - جنرال دوستم -مومن اوبابه جان ولاړوو شوړويان خو ورروسته بيادكارمل په دوره كښي راغلل - چي دېرشرم اوماتي نه وروسته د آمو له دريابه څخه په تيښته تيرشول .

اوس چي موږ ګورودغربي راديوګانو ته اوروچي په افغانستان كښي اسلامي دولت جوړشو - چي په سركي بي "رباني " ددولت رئيس دي زه وايم چي رباني خوددولت رئيس دي خودرباني په خوله كښي ژبه دچاده اودچا په قوماندي چليږي رباني دهغه چابه قوماندي چليږي چي داځوارلس پنځلس كلونه بي زموږ يونيم مليونه وروڼه شهيدان كړل .

